**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د وحې تر نزول وروسته د ښځې مقام

**(ژباړه)**

له ام عطيه رضي الله عنها څخه روايت دی چې ويې ويل:

**«بَايَعْنَا رَسولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ فَقَرَأَ عَلَيْنَا: {أَنْ لا يُشْرِكْنَ باللَّهِ شيئًا}، ونَهَانَا عَنِ النِّيَاحَةِ، فَقَبَضَتِ امْرَأَةٌ يَدَهَا، فَقالَتْ: أسْعَدَتْنِي فُلَانَةُ، أُرِيدُ أنْ أجْزِيَهَا، فَما قالَ لَهَا النبيُّ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ شيئًا، فَانْطَلَقَتْ ورَجَعَتْ، فَبَايَعَهَا.» (رواه البخاري)**

*__ژباړه:__ موږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بیعت وکړ او هغه دغه ایت را ته ولوست: «... چې له الله سره به هیڅ شی نه شریکوي...» او موږ یې له ویر (ساندو) څخه منعه کړو. یوې ښځې خپل لاس را غونډ کړ او ویې ویل: فلانۍ ماته له ما سره مرسته کړې (زما پر مړي یې ویر کړی او ساندې یې ویلې) او غواړم چې بدله یې ورکړم (زه هم د هغه پر مړي وژاړم او ویر وکړم). رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅ ورته ونه ویل. ښځه لاړه، بیرته را وګرځېده او وروسته یې بیعت وکړ.*

د وحې د نزول له پیل سره سم ښځه هغې اصلي موخې ته چې د هغې لپاره پيدا شوې وه، ورسېده او هغه د الله سـبحانه وتعالی عبادت دی او په دې پوه شـوه چې د تکلیف په ادا کولو او مسـوولیت منلو کې له نارینه‌وو سره برابره ده؛ خو خپل هغه توان او ځانګړتیاوو ته په پام سره چې الله سـبحانه وتعالی هغې ته ورکړي دي او همدارنګه د هغه چلند خلاف چې د جاهلیت په وخت کې به له ښځو سره کېده. په همدې توګه ښځې پوه شوې چې له حاکم سره د بیعت کولو حق لري، هغه ته د مشورې ورکولو حق لري او کولی شي چې د حسبه قاضي او د خصومتونو او هغو نورو چارو د حلولو قاضي شي، چې ښځې له هغو څخه معلومات لري. د هغو کسانو له نظره چې په جاهلیت کې یې ژوند کاوه، دا شونې نه وه چې ښځه دې په ټولنه کې دغه مقام ته ورسېږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له ښځو سره بیعت وکړ او دا په ټولنه کې د ښځو د مقام د لوړېدو او داسې ځای ته د هغوی د رسـولو لپاره لومړی ګام و، چې الله سـبحانه وتعالی د دوی لپاره ټاکلی و، ترڅو د اسـلام دعوتګرې شي، د راتلونکو نسـلونو روزونکې شي او هغه نیکمرغه مېرمنې شي، چې د خپل خاوند زړه ته خوښـي او خوشـالي دننه کړي.

ښځو له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره تر بیعت وروسته د علم زده کړه او د الله سبحانه وتعالی د فرایضو پر ځای کول پیل کړل او تر خپله وسه یې دغه فرایض ترسره کول. لکه څنګه چې د فرضونو په ادا کولو کې یې هڅه کوله، همداسې یې له حرامو څخه هم ځان ساته. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته امر وکړ چې له شرک او ویر کړلو څخه ډډه وکړي، نو دوی پوه شـــوې چې دا امر د هغه قانون یوه برخه ده، چې الله سبحانه وتعالی د ښځې او رب تر منځ د اړیکې د تنظیم لپاره رامنځته کړی او ښځې بې ګټې نه دي پیدا شوي، بلکې پر خپلو حقونو سربېره واجبات هم لري، چې باید ترسره یې کړي. په پایله کې ښځه یوازې هغه مهال خپل مقام پیدا کولی شي، چې هغه وپېژني او دا چاره یوازې هغه وخت شونې ده، چې د خپل رب شریعت زده کړي.

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**